**موږ باور لرو چې د ماشوم روغتیايي ستونزې حل کیدی شي.**

# د GenV د نپي سواب لاربښوونې

**ستاسو د ماشوم د مدفوع موادو نمونې راټولول**

**- مخکې لدې چې پیل وکړئ**

- مهرباني وکړئ دغه لاربښوونې ولولئ
- **ماشوم له یوې اوونۍ څخه کم عمر لري؟** د 7 ورځو په عمر نمونه راټوله کړئ، یا له هغه وروسته چې هر څومره ژر کولای شئ
- **ماشوم له یوې اوونۍ څخه زیات عمر لري؟** څومره ژر چې کولای شئ، نمونه راټوله کړئ
- **د نمونې را ټولول مو هېر شوي یا ګران کار دی؟** هر وخت خپله نمونه بېرته را واستوئ - هره نمونه مهمه ده

- که چېرې کڅوړه ورکه شوه یا غلطي وشوه - موږ سره اړیکه ونیسئ:

تلیفون: **1800 436 888** ویب سایټ: www.genv.org.au

## 1

- تاسو به اړتیا ولرئ:
  1. دا لاربښوونې،
  2. د نپي سواب کڅوړه او
  3. یو قلم
- د خپل ماشوم ناپاکه نپي بدل کړئ
- ناپاکه نپي یو اړخ ته کیږدئ تر هغه چې ستاسو ماشوم بیرته په خوندي حالت کې وي (د بیلګې په توګه په کټ کې)



## 2

- ناپاکه نپی په کلکه سطحه پرانیزئ
- د خلاصولو لپاره ټیوب تاو کړئ او را وباسئ، ترڅو د سواب سر آزاد شي
- محتاط اوسئ ترڅو د سواب سر له پوټکي یا کومې بلې سطحې سره لمس نشي



## 3

- په نرمۍ سره د سواب پر سر له ناپاکه نپي څخه د مدفوع موادو نمونه را واخلئ



## 4

- ډېر مدفوع مواد مه را اخلئ
- د سواب سر باید یوازې یو څه رنګه شي



## 5

- سواب بېرته د ټیوب په منځ کې کیږدئ
- مه پرېږدئ چې د سواب سر له پوټکي یا کومې بلې سطحې سره لمس شي
- د ټیوب سر بېرته کلک کړئ




## 6

- پر ټیوب هغه ځای نېټه ولیکئ چې لیکلي 'د راټولولو نېټه' (‘Date collected’)




## 7

- ټیوب په سپینه کڅوړه کې واچوئ
- د کڅوړې خنډې ته د بندولو لپاره یوځای فشار ورکړئ، د امکان تر حده لږ هوا سره



## 8

- سپینه کڅوړه، د بېرته را استولو پاکټ ته واچوئ
- پاکټ بند کړئ
- دا د خونې په حرارت کې پاتې کیدی شي (نه په یخچال یا فریزر کې)




## 9

- د خط پاکټ د یوې اونۍ په اوږدو کې GenV ته واستوئ، یا ژر تر ژره - دا د آسټرالیا په کوم پوسټ بکس کې واچوئ، هیڅ پست کولو ته اړتیا نشته




V2.0 2022-05-20

MiCROBA POWERED

**ستاسو د مرستې لپاره مننه تر څو راتلونکی نسل تر ټولو روغ وي.**